مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌جان هاجره حرکت

۲۰۲۶/۰۳/۲۵

# د اختر ورځ پر ترخه ژړ-۱ باندي

د اختر ورځ ته په سلګو، سلګو وم
چاته مي نه شولو ویلي چي اختر مبارک
همدي اختر کي شوه بلا نازله
زموږ ګلبڼ کي د ګلانو
پاڼي ورژیدي
زما مالت شولو پر وینو لژند
تنکي لاسونه
د ګل نازکي پاڼي ترمي ترمي
بزګر پر کور مو ګولی ووریدي
هغه بزګر لکه مالي د ګلبڼ
پري یو ناترسه ورانونکی سیلاب
زموږ د بڼ پر سرو غوټیو راغی
او ناڅاپي و د لعین دوښمن مرګونی ګوځار
د پیشنمي ډوډی یي وسوه پر اور
پر کور یي پریوته د مرګ سره لمبه
پر دیوالونو کنډوالو خوري شوې
پر کټ یي مور او ماشوم
واړه د مرګ پر خوب ویده پریوتل
ماشوم بچي یي شو له موره جلا
دا کورنۍ شوله تر خاورو لاندي
زوي یي ویل: په خواږه خوب کي ومه
له بد حالیو لرې
یو نابېره د دادا او ابی
په غم کي ورک شولومه
دا کرغیرن دوښمن، له کومه راغی
د ابلیس تور لاس کي د اور سکروټي
ورونه او خویندي مي
پر سرو اورونو او لمبو کي
راته لولپه کړل
د پاک رب دا مبارکه میاشت روژه چي
د لوریني عباداتو میاشت ده
د انسانانو تر منځ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

دا د میني د ویشلو نړدیوالي میاشت ده
په مبارکه شپه کې یې
دوي پر موږ اور وشینده
وو توردیوان، چې د سکروټو
تور باران یې راشیوه کړ
زموږه ټوله کورنۍ راته پوپناه کړه
زه یم یوازې پاتې
د دې ناخوالو او نادودو
په بهیر کې اوس ژوندون څه کوم
د کړلیچونو پر پیچومو لالهانده پاتې
او د خپل تریخ برخلیک
پر ترخه ژۍ ۱ باندې ټالی وهمه
په پلازمینه کابل جان
د درملنې په مرکز کې وو
خوشال ناروغان،
په درملنه هیله من ول
له روږدیتوبه راستانه وو
د اختر ورځ ته یې انتظار کولو
چې د وحشي دیوانو
په لاس ناورین خپور شو
لاړل د مرګ کومې ته

۱ـ د څادر څنډه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولـئ